مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۹/۱۱/۰۶

د پوهې یوه شنه او پر باره ونه غوڅه کړای شوه

(د پوهاند عزیز احمد پنجشیري وژنه)

زه یې داسې انګیرم چې استاد پوهاند عزیز احمد ته خپل تخلص بلا بوټه کړه او د خپلو کلیوالو، وطندارو د ناپوهۍ او تېروتنو پور ده پرې کړ. پوهاند عزیز احمد پنجشیري د یوې نا اهله سیاسي نظامي قاتلې ډلګۍ د میلونونو تېروتنو پور پرې کړ.

په ټینګار سره ویلای شم چې پوهاند عزیز احمد پنجشیري د کابل پوهنتون د وتلو او پوهو استادانو د لومړي کتار په سر کې ځای درلود، هم د پوهې له مخې او هم د وطنپالنې او خلکو سره د مینې له مخې.

پوهاند عزیز احمد پنجشیري د کابل پوهنتون د ځمکپوهنې پوهنځي د جغرافیې ډیپارتمنت یو له هغو استادانو ځینې و چې پر خلکو او وطن باندې مین و. پوهنتوني چاپېریا، استادانو، محصلینو، مطالعې او په تېره څېړنې سره یې لیونۍ مینه درلوده. ما په ساعتونو ـ ساعتونو او لا ورځو ـ ورځو بندارونه ورسره کړي دي او دې موده کې یې هېڅکله ما خوله بې له خندا نه وه لیدلې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما ته د شپېتمې هجري لمريزې لسېزې د پيل په کلونو کې، د څه مودې له پاره د کابل پوهنتون د نشراتي ارګان «اجتماعي علوم» مجلې د مرستيال مدير دنده راسپارل شوې وه. مجله به مو يا د کابل پوهنتون په چاپخونه کې او يا د لوړو زدکړو وزارت په مطبعه کې چاپوله، کله ـ کله به مې په يادو چاپوخونو کې ليده چې د خپلو کتابونو پروفونه به يې تصحيح کول او يا به د خپلو درسي کتابونو د ګستتنرونو په چاپ باندې لګيا و. او کله ـ کله به د مجلې دفتر ته راته، خپلې مقالې به يې د چاپ له پاره راوړي او بيا به د مجلې له مسؤل مدير پوهاند الهام سره کېناسته او له هغه نه به يې ځينې پوښتنې مطرح کولې او علمي بحثونه به يې کول.

ډېر ځلې به يې د تاريخي جغرافيې په باب له علامه رشاد او بيا له پوهاند الهام سره بحث کاوه او له هغوی نه يې د ځينو ټاکلو ځايونو د نومونو په باب داسې پوښتنې مطرح کولې چې هغه درانه استادان بايد د هغو ځايونو نومونه د ژبپوهنې د علم په رڼا کې وڅېړي او...

همدا نن خبر شوم چې د پوهې دا ګنجينه هم د توپکيانو د ناپوهۍ او خپلمنځي تضادونو په سيوري کې خپل پرباره ژوند له لاسه ورکړ.

د علم دا شنه ونه طالبانو په بغلان کې غوڅه کړه او د هغه د کورنۍ، همکارانو، شاګردانو او لارويانو په زرګونو ارمانونه يې تر خاورو لاندې کړل. زه يې داسې انګيرم چې استاد پوهاند عزيز احمد ته خپل تخلص بلا بوټه کړه او د خپلو کليوالو، وطندارو د ناپوهۍ او تېروتنو پور ده پرې کړ. پوهاند عزيز احمد پنجشيري د يوې نا اهله سياسي نظامي قاتلې ډلګۍ د ميلونونو تېروتنو پور پرې کړ.

د پوهاند عزيزاحمد پنجشيري يو همکار او مينه وال، ښاغلی عبدالغفور لېوال د ده د مړينې په باب داسې خواشيني څرګنده کړې ده:

«خورا خواشينی يم، خبر شوم؛ چې پوهاند عزيزاحمد پنجشيري شهيد کړای شوی دی.

پوهاند پنجشيري د تاريخي جغرافيې پياوړی پوه او د ټولنيزو پوهنو متخصص افغان استاد و. له ما سره په ګڼو فرهنګي کميسيونونو کې همکار او ملګری پاته شوی و، ملي روحيه يې درلوده او افغانستان پرې خورا ګران و. ارواښاد اوږده موده د هېواد بچيان روزلي ول او د ګڼو خپرو شويو اثارو ليکوال و.

ده په ډېره تواضع ځان د پوهاند علامه حبيبي، اکادميسين پوهاند رشاد، استاد کهزاد، پوهاند دکتور حسن کاکړ، پوهاند ميرحسين شاه او نورو لويو استادانو شاګرد باله.

پر غور او غوري واکمنيو يې خورا ښه څېړنه کړې وه او د ورېښمو د لارې تاريخي تګلوري يې پېژندل.
هېره دې نه وي، چې نوموړی د افغاني هويت ټينګ پلوي و او د (افغان) نومونې په اړه يې په زړه پورې نظريات درلودل، چې په باور يې دا نوم خورا پرتمين او لرغونی دی.

زه د دغه بې ازاره او دانشمند افغان وژل يو پرېوتی او ناانساني جنايت بولم او د افغانستان فرهنګي ـ اکاډميک کول و کهاله ته يې د تشې تسليت وايم.

الله عالم دی او د علم مينه وال ښې، پر ګور يې نور شه!»

د پوهاند عزيزاحمد پنجشيري ځای به

د افغانستان په علمي کورنۍ تر ډېرو تش وي.

کورنۍ ته يې او د افغانستان علمي کړيو ته يې د نه شتون تسليت وايم.

خدای دې ورباندې ورحمېږي!

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ